د واکسین د مالوماتو بیانیه

Many vaccine information statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین د معلوماتو اړوند ډېرې بیانونه په پښتو او نورو ژبو کې موجود دي.
www.immunize.org/vis وګورئ.

# د روټا وایرس واکسین:
## هغه څه چې تاسو باید پرې پوه شئ

## 1. ولې واکسین وکړو؟

**د روټا وایرس واکسین کولای شي چې د روټا وایرس له ناروغۍ څخه مخنیوی وکړي.**

د روټا وایرس په عمومي ډول سره په کوچنیانو او ځوانو ماشومانو کې د شدید، اوبلن نس ناستي لامل ګرځي. استفراغ او تبه هم په هغو ماشومانو کې چې په روټا وایرس باندې اخته دي معمول دي. ماشومان ښایي د خپل بدن اوبه ضایع کړي او په روغتون کې بستري کېدو ته اړتیا ولري او حتي ژوند له لاسه ورکړي.

## 2. د روټا وایرس واکسین

د روټا وایرس واکسین د ماشوم په خولې کې د قطرو اچولو پواسطه تطبیق کېږي. کوچنیان باید د روټا وایرس کارول کېدونکې براند په پام کې نیولو سره، د روټا وایرس 2 یا 3 ډوزونه ترلاسه کړي.

- لومړی ډوز باید د 15 اونیو له عمر څخه وړاندې تطبیق شي.
- وروستی ډوز باید د 8 میاشتو په عمر کې تطبیق شي.

تقریباً ټول هغه کوچنیان چې د روټا وایرس واکسین ترلاسه کوي هغوی به د روټا وایرس له شدید نس ناستي څخه خوندي شي.

بل وایرس چې " porcine circovirus" نومیږي د روټا وایرس د واکسین په یو براند (Rotarix) کې پیدا کېدلی شي. دا وایرس خلک نه مصاب کوي، او د خوندیتوب هیڅ کوم خطر شتون نلري.

د روټا وایرس واکسین ښایي لکه د نورو واکسینونو په څېر په ورته وخت کې ورکړل شي.

## 3. د خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کونکي سره خبره وکړئ

خپل چمتو کونکي ته ووایئ که چېرې د واکسین تطبیق کونکی کس:

- د روټا وایرس واکسین له مخکیني ډوز څخه وروسته یې **یو الرژیکي غبرګون څرګند کړی وي، یا یې شدیدې، د ژوند ګواښونکې الرژي ګانې لرلې وي**
- **کمزوری معافیتي سیستم ولري**
- **د ترکیبي معافیت سیستم شدید کمښت (SCID)** ولري
- د کولمو یو ډول بندیدل چې **"intussusception"** نومیږي ولري

په ځنو مواردو کې، ستاسو د ماشوم د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکې ښایي پرېکړه وکړي چې د روټا وایرس واکسین تر راتلونکې لیدنې پورې وځنډوي.

د کوچنیو ناروغیو لکه زکام لرونکي کوچنیان، ښایي واکسین شي. هغه کوچنیان چې لږ یا ډېر ناروغ وي باید په معمول ډول سره د روټا وایرس د واکسین له تطبیقولو څخه وړاندې د صحتمنده کېدو تر مودې پورې صبر وکړي.

ستاسو د ماشوم د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی تاسو ته لا ډېر مالومات درکولای شي.

## 4. د یو واکسین د غبرګون خطرونه

- بدخلقي یا خفیف، مؤقتي نس ناستی یا استفراغ د روټا وایرس له واکسین څخه وروسته رامنځته کېدلی شي.

د کولمو ننوتل یو بل کې (Intussusception) د کولمو یو ډول بندیدل دي چې په روغتون کې یې درملنه ترسره کېږي او ښایي جراحۍ ته اړتیا ولري. دا په طبیعي ډول په متحده ایالاتو کې هر کال په ځنو کوچنیانو کې پېښیږي، او معمولاً د دې لپاره کوم پېژندل شوی دلیل شتون نلري. معمولاً د واکسین د لومړي یا دویم دوز څخه وروسته د یوې اونۍ دننه، د روټا وایرس د واکسین له امله د کولمو د بندیدو یو کوچنی خطر هم شتون لري. دا اضافي خطر د متحده ایالاتو له تقریباً 1 په 20,000 کوچنیانو کې د متحده ایالاتو تر 1 په 100,000 کوچنیانو کې چې د روټا وایرس واکسین ترلاسه کوي، اټکل کېږي. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی تاسو ته لا ډېر مالومات درکولای شي.

له هر ډول درملو سره، د یو واکسین لپاره خورا لږ چانس شتون لري چې د شدید الرژیکي غبرګون، یا بل جدي زیان، یا مړینې لامل وګرځي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

## 5. که چېرې کومه جدي ستونزه شتون ولري نو څه؟

د کولمو د بنديدو لپاره، له شديدې ژړا سره د معدې د درد علايم وګورئ. په لومړيو کې، دا پېښې ښايي څو دقيقو پورې دوام وکړي او په يو ساعت کې څو ځلې لاړې او راشي. کوچنيان ښايي خپلې پښې د سينې تر قفس پورې کش کړي. ستاسو کوچنی ښايي څو ځلې استفراغ وکړي يا په غايطه موادو کې وينه ولري، يا ښايي کمزوری يا بدخلق معلوم شي. دا نښې معمولاً د روټا وايرس د واکسين د لومړي يا دويم ډوز څخه وروسته د لومړۍ اونۍ پرمهال پښېږي، مګر د واکسين تطبيق څخه وروسته هر وخت د هغه تمه ولرئ. که چېرې تاسو فکر کوئ چې ستاسو ماشوم د کولمو په بنديدو اخته شوی دی، سمدستي د روغتيايي پاملرنې له چمتو کونکي سره اړيکه ونيسئ. که چېرې تاسو نه شئ کولای چې د خپلې روغتيايي پاملرنې له چمتو کونکي سره اړيکه ونيسئ، خپل کوچنی روغتون ته ورسوئ. هغو ته ووایاست چې ستاسو ماشوم د روټا وايرس واکسين ترلاسه کړی ده.

وروسته لدې چې واکسين شوی کس کلينيک پرېږدي پدې صورت کې يو الرژيکي غبرګون رامنځته کېدلې شي. که چېرې تاسو د جدي الرژيکي غبرګون علايم (التهابونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفس کې ستونزه، د زړه چټک ضربان، پرکالتوب، يا کمزوري) وګورئ، له **9-1-1** شمېرې سره اړيکه ونيسئ او اړونده کس تر ټولو نژدې روغتون ته ورسوئ.

د هغو نورو علايمو لپاره چې تاسو اندېښمن کوي، د خپلې روغتيايي پاملرنې له چمتو کونکي سره اړيکه ونيسئ.

د نا مطلوبو غبرګونونو په اړه بايد د واکسين د نامطلوبو پېښو د راپور ورکولو سيستم (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو د روغتيايي پاملرنې چمتو کونکی به دا راپور ثبت کړي، يا دا کار تاسو په خپله ترسره کولای شئ. د VAERS له وېب پاڼې څخه په [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) کې ليدنه وکړئ يا له **1-800-822-7967** شمېرې سره اړيکه ونيسئ. VAERS يوازې د غبرګونونو د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکونکي غېر طبي مشوره نه ورکوي.

## 6. د واکسين د زيان د جبران ملي پروګرام

د واکسين د زيان د جبران ملي پروګرام (VICP) يو فدرال پروګرام دی چې هغو کسانو ته د جبران لپاره جوړ شوی دی چې د ټاکلو واکسينونو پواسطه زيانمن شوي وي. د واکسين د تطبيق له امله د ادعا شوي زيان يا مړينې په اړه ادعاوې د ثبت کولو لپاره د وخت محدوديت لري چې د دوه کلونو په اندازه دی. د VICP له وېب پاڼې څخه په [www.hrsa.gov/vaccinecompensation](http://www.hrsa.gov/vaccinecompensation) کې ليدنه وکړئ يا **1-800-338-2382** شمېرې سره اړيکه ونيسئ ترڅو د دې پروګرام او د ادعا د ثبتولو په اړه مالومات تر لاسه کړئ.

## 7. زه مالومات څنګه ترلاسه کولای شم؟

- د خپلې روغتيايي پاملرنې له چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ.
- له خپلې سيمه اييزې يا ايالتي روغتيايي څانګې سره اړيکه ونيسئ.
- د واکسين د بستې او لا ډېرو مالوماتو لپاره د خوړو او درملو د ادارې (FDA) له وېب پاڼې څخه په [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) کې ليدنه وکړئ.
- د ناروغيو د کنټرول او مخنيوي له مرکزونو (CDC) سره اړيکه ونيسئ:
  - د 1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO) شمېرې سره اړيکه ونيسئ يا
  - د CDC له وېب پاڼې څخه په [www.cdc.gov/vaccines](http://www.cdc.gov/vaccines) کې ليدنه وکړئ.

Pashto translation provided by Minnesota Department of Health